واحد فقیري ۲۰۱۹/۰۲/۰۴

# نیویارک ټایمز: د افغان جنګ ختم کړئ

د امریکا ټاپ اخبار نیویارک ټایمز په خپله اوږده سرمقاله کې د فبروري پر ۳ مه لیکي د ۲۰۰۱ د سپټمبر پر ۱۴ مه د متحده ایالاتو په تاریخ کې کانګرس تر ټولو غټ سپین چیک ولیکی. کانګرس جمهور رئیس بوش ته اجازه ورکړه چي د طالبانو پر خلاف نظامي عملیات وکړي، ځکه هغوی اسامه بن لادن نه تسلیموی. د امریکا په سنا او ولسي جرګې کې یوازي یوې استازي د دې جنګ مخالفت وکړ. د کلفورنیا دیموکراتي وکیلې، مېرمن باربارا لې، خبرداری ور کړ، او وې ویل،«موږ باید د یو بې پایانه جنګ په غېږ ور نه سو. داسي یو جنګ چي نه د خروج ستراتیژي ولري، او نه هم مشخص هدف او موخه ولري. موږ باید پخواني اشتباهات بیا تکرار نه کړو.»

خو فقط څو راوروسته، جمهور رئیس بوش د کانګرس ګډې ناستي وویل،«د تروریزم پر خلاف زموږ جنګ د القاعدې سره شروع کېږي، خو دا جنګ دلته نه ختمېږي. دا جنګ به تر هغه وخت پوري دوام ولري څو ټولي نړیوالي تروریستي ډلي پیدا او ماتي کړو.» اوس ۱۷ کاله راوروسته، د امریکا اردو په شپږو قارو کې په ۸۰ (اتیا) ملکونو کې د تروریزم پر ضد په جنګونو کې لتاړه ده. د عراق او افغانستان د جنګ مصارف او د عسکرو معالجه به د ۲۰۱۹ تر آخره پوري شپږ ټریلیون ډالرو ته ورسېږي. څرنګه چي دا ګرده پیسي په قرض اخیستل سوي دي، د دې جنګ نهایي قمیت به تر شپږ ټریلیونه لا زیات وي.

د ۲۰۰۱ راهیسي پدې جنګونو کې تقریباً درې میلونو امریکایي عسکرو برخه اخیستې ده. قریب ۷۰۰۰ عسکر او تقریبا ۸۰۰۰ قرار دادیان په کښې وژل سوي دي. څه د پاسه ۵۳۷۰۰ کسان په کښې ټپیان سوي دي. بوش موږ ته په ۲۰۰۴ کې وویل،«موږ دا جنګونه ځکه په افغانستان او عراق کې کوو، څو موږ په خپلو ښارونو کې د تروریستي حملو سره مخامخ نه سو.»

خو واقعیت دا دئ چي کرکه سرحد نه لري. دا درسته خبره ده چي د سپټمبر د یوولسمي له حملو راوروسته، هیڅ خارجي تروریستي ډله پدې بریالی نه سوه چي د متحده ایالاتو په دننه کې حمله وکړي، خو له وخت راهیسي څه د پاسه ۲۰۰ حملې د داخلي امریکایي تروریستانو لخوا تر سره سوي دي. پدې حملو کې نیم د راډیکال امریکایي مسلمانانو لخوا سوي دي، او سم نیم د سپین پوستو افراطیانو لخوا سوي دي.

کله چي ټرمپ د سپیني مانۍ د نیولو لپاره مبارزه کوله، هغه وعده وکړه چي په خارج کې به د امریکا د نظامي ماجراجویې مخه نیسي، او یوازي به پر ستراتیژیکي لومړیتوبونو باندي تمرکز کوي. پدې برخه کې د ښاغلي ټرمپ نظر درست او صایب دئ. او باید همدا بې انجامه جنګونه ختم سي. همداوس، تقریباً ۱۴۰۰۰ امریکایي عسکر په افغانستان کې دي. د امریکا د استخاراتو تازه ریپوټ وایي،«دا جنګ یو کامل بن بست ته رسېدلی دئ.»

البته، د نیویارک ټایمز اداره اعتراف کوي چي موږ له اوله سره د افغان د جنګ پلویان وو. موږ د ناټو پر هغو هیوادونو باندي انتقاد کاوه چي افغانستان ته په کافي ئې اندازه عسکر نه لیږل. موږ د عراق له جنګ سره پدې خاطر مخالفت وښود چي له افغانستانه ئې منابع بلې خوا ته متوجه کولې. موږ اقرار کوو چي موږ د افغان حکومت په اړه ساده او خوشبینه وو، که څه هم موږ پوهېدلو چي د افغان حکومت نهایت بیکاره او جام ولاړ دئ. موږ د ملکي کسانو د وژلو په باب خپل ژور خپګان او اندېښنه څرګنده کړې ده، دغه راز موږ د پنټګان له هغه کوښښ سره هم مخالفت ښودلی دئ چي پر ګوته ئې کشمیر راته جوړوی.

کله چي ښاغلي اوباما د افغان د جنګ د ختمولو وعده وکړه، موږ ئې حمایت وکړ. خو کله چي اوباما وعده خلافي وکړه، موږ خپل خپګان اظهار کړ. موږ په ۲۰۱۵ کې ښاغلي اوباما ته ولیکل،«په افغانستان کې د څو نورو کلونو لپاره امریکایي عسکر ساتل، هیڅ ګټه نه لري.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چي جمهور رئيس ټرمپ په سپينه مانۍ ننوت، د هغه نظامي مشران پرې غالب سول، او په ۲۰۱۷ کي ئې اضافه عسکر افغانستان ته واستول. د ټرمپ په دروان کي په افغانستان کي د بمونو باران شروع سو. خو د ټرمپ ستراتيژي له ناکامۍ سره مخامخ ده. په زرهاوو ملکي افغانان ووژل سول. په ميلونهاوو افغانانو يا وطن خوشي کړ، او يا دننه په هيواد کي نورو ځايونو ته وکوچېدل. د مخدره مواد کښت تر بل هر وخت زيات دئ. افغانستان اوس هم د جهان له فقيرو هيوادونو څخه دئ. د ۲۰۱۴ راهيسي، څه د پاسه ۴۵۰۰۰ افغان عسکر او پوليس وژل سوي دي.

اوس د ټرمپ حکومت د طالبانو سره خبري شروع کړي دي. دا يو ښه ګام دئ، او د واقعيت منل دي. موږ بايد دا ومنو چي د افغان جنګ په ښه حالت کي يو بن بست دئ، او په بد حالت کي يوه ناکامي ده. زموږ اساسی هدف د اسامه بن لادن وژل وو، هغه مو تر لاسه کړ. زموږ بل هدف په افغانستان کي يو داسي حکومت جوړول ول چي پر خپلو پښو باندي ودرېږي، دا هدف ښايي تر لاسه نه سي، ځکه دا کار دونه منابع غواړي چي موږ ئې د تاديه کولو خيال نه لرو. البته له يوه جنګ څخه راوتل ستراتيژی نه ده. خو خپل عسکر په منظمه توګه راايستل ممکن دي، او ښايي د ډېرو خلګو ژوند وژغوري. په ۲۰۱۹ کي په افغانستان کي تر اوسه پوري دوه امريکا عسکر وژل سوي دي، په ۲۰۲۰ کي بايد هيڅ امريکايي هلته په جنګ کي اخته نه وي.

اوس چي د امريکا او طالبانو مذاکرات پر مخ روان دي، واقعاً دا مذاکرات طالبانو ته د امريکا تسليمي ده. د افغان حکومت د دي خبرو جز نه دئ، ځکه طالبان ئې مشروع نه ګني، او د امريکا ګوډاګی ئې بولي. حقيقت دا دئ کله چي زموږ قواوي له افغانستانه ووزي، بيا موږ پر طالبانو باندي د خپلو تعهداتو د عملي کولو توان نه لرو. مګر طالبانو ته بايد دا وويل سي چي که چيري بيا افغانستان د تروريزم په ځاله باندي بدل سي، امريکا به همدا تهديد سمدستي محوه کړي. طالبانو يو ځل د اسامه بن لادن پر سر خپل قدرت له لاسه ورکړه، او بيا بايد هغه اشتباه تکرار نه کړي.

اکثريت امريکايان د افغان د جنګ ختمول غواړي. که چيري ټرمپ د افغان جنګ د دی کال تر اخره پوري ختم نه کړي، کانګرس بايد د دي جنګ قانوني صلاحيت نور فسخ کړي. البته، دا هم بايد ومنو چي د امريکايي قواوو تر راوتلو راوروسته به د افغانانو ژوند بهتره نه سي. ځيني مبصرين د داخلي جنګ او هرج و مرج اټکل کوي. خو دا هم ممکنه ده چي د امريکايي عسکرو راوتل افغانان دېته وهڅوي چي په ګډه د خپل وطن د ثبات لپاره کار وکړي.

امريکا بايد خپله اشتباه ومني. موږ بايد دا ومنو چي خارجي جنګونه د جهاني تروريزم پر خلاف واکسين نه دي. ځکه د ۲۰۰۱ راهيسي په بهرنيو ملکونو کي زموږ نظامي مداخلو د تروريستي ډلو شمېر لا زيات کړی دئ. د تروريزم پر خلاف دا شل کلنه جګړه موږ ته دا راوښوده چي تروريزم د دښمن يوه ډله نه ده چي مات سي، بلکي يو تاکتيک دئ، او هيڅ سرحد نه لري. په بل عبارت، په ځينو وختونو کي د تروريزم مخنيوی کېدلای سي، خو يو دم ختمېدلای نه سي.

که چيري موږ غواړو چي د نړيوال تروريزم پر ضد خپلي هلي ځلي دوامداره وساتو، موږ بايد پر استخباراتو، ډيپلوماسۍ، انکشاف، او مخنيوي باندي تمرکز وکړو، نه پر بي انجامه او بي پايانه جنګونو باندي.

زموږ عسکرو په افغانستان کي په شهامت وجنګېدل، او اوس د دي وخت رارسېدلی دئ چي خپلو کورونو ته راستانه سي.

پايان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ